# شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تاسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳٤۸ ګڼه / دوشنبه ۱۹ جماديالثانی ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۱ جدی ۱٤۰۲ هـ.ش / اول فبروری ۲۰۲٤ میلادي


## د امنیت شورا پریکړه لیک ته د بهرنیو چارو وزارت غبرګون

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت له دې ناخوښي څرګندوي، چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا د دایمي غړو ترمنځ د نظر اختلاف سره سره ۲۷۲۱ شمېره پرېکړهلیک تصویب شو، چې له مخې یې د ملګرو ملتونو له سرمنشي څخه غوښتنه شوې چې افغانستان لپاره بل ځانګړی استازی وټاکي.

د یادولو ده، چې امنیت شورا د دوو دایمي غړو لـه خوا د ځانګړي همغږي کوونکي د ارزوني په تړاو د لا زیات وخت، بحث او وضاحت غوښتنې سره سره او د افغانستان حکومت سره له مشورې پرته یاد پرېکړهلیک تصویب کړ.

د افغانستان حکومت یو ځل بیا تکراروي، چې د ملګرو ملتونو د ځانګړي ماموریت (یوناما) په فعال موجودیت کې د افغانستان لپاره د یوه بل اضافي ځانګړي استازي ګومارنه یوه غیرې ضروري چاره ګڼل کېږي، ځکه چې ... ۵مخ

## امنیتي او تصفیوي کمېسیون خپلې لاسته راوړنې رسنیزې کړې



د مولوي محمد یعقوب مجاهد په مشرۍ امنیتي او تصفیوي کمیسیون د یوه خبري کنفرانس په ترڅ کې خپلې کړنې او لاسته راوړنې له رسنیو سره شریکې کړې.

په دې خبري غونډه کې مولوي محمد یعقوب مجاهد ویلي؛ ډېر د خوښۍ ځای دی چې هېواد مو خپلواک او له سرتاسري امنیت څخه برخمن دی.

د اشغال او فساد ټولې ناخوالې او د واک جزیرې لـه منځه تللې او د عالیقدر امیرالمومنین ... ۵مخ

### مولوی عبدالکبیر:
## برخورد مسوولان با مردم نماد اطمینان و امید بخش باشد

مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزرا گفته است که برخورد مسوولان ادارات حکومتی با مردم امید بخش و نماد اطمینان باشد.

دفتر مطبوعاتی این معاونیت، در خبرنامهیی نوشته است که مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزرا در دیدار با محمد نبی عمری معین وزارت امور داخله، مالی خان معاون لوی درستیز، شیخ عزیز الرحمن منصور، شیخ زر محمد و مولوی عارف الله عارف معینان وزارت حج و اوقاف این موضوع را بیان کرده و گفته است که مسوولان تمام ادارات حکومتی باید با مردم برخورد نیک و مناسب کنند، طوری که به مردم امید بخشد و نماد اطمینان باشد.

این مسوولان برای معاون سیاسی ریاست الوزرا در مورد فعالیت ها و چگونگی امور ادارات مربوطه شان معلومات دادند و متعهد شدند مسوولان امارت اسلامی تلاش میکنند به مشکلات مردم به موقع رسیدگی شود.

### وزارت معارف؛
## مصروف ساختار تشکیلاتی هستیم، هیچ کارمندی منفصل نمیشود




وزارت معارف گفته است از دو سال به اینطرف مصروف ساختار تشکیلاتی اند.

این وزارت در اعلامیهي گفته است: با اصلاحاتی در تشکیلات ریاستهای عمومی «ریاست تربیه معلم و انکشاف مسلکی» را به میان آورده است.

دراعلامیه گفته شده است: وزارت معارف برمبنای نیازمندیها در راستای فراهم سازی زمینههای بسط و توسعه مستمر مسلکی سازی کارمندان و با توجه به اقتضای زمان، از دو سال بدین سو اصلاحات را در ساختار تشکیلاتی روی دست گرفته است.

طی اصلاحات ... ص۵

### ماليې وزارت:
## پر دولتي ادارو د پاتې طلباتو، تضميناتو او تاميناتو ورکړه پيلېږي




مالیې وزارت ویلي، چې د اسلامي امارت له بیا حاکمیت څخه مخکې پر دولتي ادارو د پاتې طلباتو، تضميناتو او تاميناتو ورکړه پیلوو.

د یاد وزارت چارواکي وايي؛ په تېره اداره د قرضونو ورکړې میکانیزم د رییسالوزرا له لوري منظور شوی، چې له مخې به یې حقیقي اشخاصو ته د قرضونو ۱۰ سلنه ورکړل شي.

مالیې وزارت د اسلامي امارت لـه بیا حاکمیت وروسته په تېره اداره د حکمي او حقیقي اشخاصو، مقروضیتونو، طلباتو او تضميناتو د ورکړې میکانیزم منظور کړی، چې له مخې به یې د مقرضیتونو د ورکړې لړۍ پیل شي.

د چارواکو په وینا؛ د ۲۶ ادارو مقروضیتونه تثبیت شوي، چې د روان کال تر پایه بـه ورکړل شي.

د دې وزارت چارواکي زیاتوي؛ پاتې اداري چې تر اوسه یې د طلبات او تضمینات مقروضیتونه نه دي تثبیت شوي، له تثبت وروسته به یې د حقیقي اشخاصو مقروضیتونه ورکړل شي.

---

بحران غزه و شجاعت کمنظیر مردم آن سرزمین ص ۲

کمونېزم او د افغاني کمونستانو جنایتونه ۲ مخ

په اسلام کې د نرمۍ او سختۍ پالیسي ۴ مخ

---

### سرمقاله
## د اوبو د مدیریت له پاره باید عملي ګامونه پورته شي

په داسې حال کې چې له تېرو دووکلو راهیسې په ټول هېواد کې پرته له معمولي پرخې چندان داسې باران نه دی شوی چې پرځمکه اوبه روانې کړي اویا غرونو کې د واورو څه زېرمې جوړې شي. واقعیت هم دادی چې زموږ د وطن طبیعی جوړښت ځکه د ډېر باران غوښتونکی دی چې زیاتره برخه یې غرونو نیولې، اوارې خاورینې ځمکې او د منظمی کروندې ورسیمې یې کمې دي- ښکاره ده چې له دې ډول ځمکو خصوصاً هغه مهال پوره ګټه اخیستل کېدی شي کله چې باران زیات او للمي حاصلات یې ښه راشي- ضمنا طبیعی ګیا اوبوتي- شـینلي هم ورسره زیاتیږي چې دهېوادوالو رمو- ګلو اوهر ډول څارویو د مرېدو لپاره خورا مهم توګی اوګټور مجال دی. څرنګه چې د هېواد همدې غرني جوړښت د اوبو د سترو ویالو، کانالونو او مزرعو جوړولو چاره تریوې اندازه سخته کړې ده، همدا وجه ده چې عام ولس له خپل ضرورت سره سم په خپله خوښه وړې وړې ویالې غځولې او خپل مقصد یې ترې پوره کړی دی- خو په دې ترڅ کې بیا له همدې تنده ځپلي هېواده اوس هم لړترلړه اته داسې له اوبوډك سیندونه زموږ ګاوندیو هېوادو ته ور بهیږي چې دهغوی ډېرې پراخې سـیمې ورته خړوبوي- خو ترڅنګ یې زموږ ځینې لوی لـوی ډاګونه هم وچ پراته دي- په دې اساس له ډېرې پخوا راهیسې دلته د اوبو د وېش، زېرمه کولو او ښه ... ۵مخ

## بهره برداری بیست پروژه ی توسعه یی درپنجشیر



بیست پروژه ی توسعه یی درپنجشیر به بهره گیری سپرده شد.

مولوی شیر علی موزون رییس احیاء و انکشاف دهات پنجشیربه آژانس باختر گفت: این پروژهها شامل بخشهای زراعتی و ترانسپورتی است که اخیراً در مربوطات ولسوالی آبشار پنجشیر به ... ص۵

## کار ساخت پنج پل در ولایت زابل تکمیل شد



وزارت فواید عامه ازتکمیل کار ساخت پنج پل در ولایت زابل خبر داد.

دفتر مطبوعاتی وزارت فواید عامه دیروز با نشر این خبر گفته است: کار پنج پل در ساحات ( زاره نورک، تازی رباط، لب دریا، حسن کاریز و خارجوی) تکمیل و با حضور داشت ملا محمد عیسی"ثانی" سرپرست وزارت فواید عامه به بهره برداری سپرده شد.

این در حالی است که وزارت فواید قبلا کار ساخت ده پل را در زابل روی دست گرفته بود که کار پنج پل تکمیل و کار چهار پل در ساحات(سنگر ماندا، سوخته، نوبهار و مغلیز) در آینده نزدیک تکمیل و از سوی این وزارت به بهره برداری سپرده خواهد شد و کار پل شینکی ۵۵ درصد پیشرفت داشته است که با گرم شدن هوا کار آن دوباره آغاز خواهد شد.

## په بغلان کې د اوبو رسولو ۸ شبکې جوړې شوې



د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت سرپرست ملا محمد یونس اخند زاده او ورسره مل پلاوي بغلان ولایت تـه د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د څه باندې ۵۳ میلیونه افغانیو په لګښت د اوبو رسولو ۸ شبکې ګټې اخیستنې ته وسپارلې. ۵مخ

## جهادي خاطرې

# دیني ورورګلوي او خواخوږي

**مولوی حیات الله مهاجر فراهی**

۳/۱/۱۴۰۰- لمریز کال

د امریکایي تلوالي او ورسره اشربانو سره جهادي بهیر له خورا ستونزو، کړاوونو او ناخوالو ډک و. مجاهدینو معلوم او ثابت مراکز نه درلودل، ټول وخت به یې په ګرځېدا کې تېریده ... ډوډۍ یو ځای، لمونځ بل ځای او خوب بل ځای، حتی داسې هم پېښېده چې په یوه شپه کې څو ځایه بدل کړي.

په داسې حالاتو کې طبعاً سړی له مختلفو خلکو سره معرفت پیدا کوي، اړیکې او راشه درشه یې ډېرېږي. باید اعتراف وکړو چې د روان جهادي بهیر ډېر بوج پر ولسي وګړو و، د مجاهدینو ډوډۍ، د اوسېدو ځای، د اسلحو، مهماتو او وسائطو د خوندي کېدا مسؤلیت د دوی پر اوږو و.

ولسي وګړو هم په ډېره ایماني جذبه او مینه دا مسؤلیت سرته ورساو، موږ هم د نورو مجاهدینو په څېر ډېر کلونه په کلیو او باندېو کې سیاره او ګرځنده ګذاره وکړه. باور وکړئ چې له داسې خلکو سره مو معرفت او شناخت پیدا شو چې له وړاندې مو ورسره هېڅ علاقه نه لرله خو په ډېر اخلاص او صداقت یې ډوډۍ راکوله، ښځو به ماشومان د کالیو وینځلو لپاره راته لیږل.

په لومړیو وختونو کې د خلکو اقتصادي حالت هم نسبتاً پیاوړی و، نغدي مرستې یې هم کولې. زکات او عشریې هم راکاوه، چا به چې کورته کومه اسلحه او مهمات لرل هغه به یې هم د مجاهدینو په واک کې په خورا خوښۍ ورکول.

نن د یو داسې کاکا ځای ته د ښوښتني لپاره ورغلم چې په خورا سختو حالاتو کې یې زموږ خدمتونه کړي وو، مېلمستون کې یې کېناستلو، څو شېبې وروسته کاکا له کوره په داسې حالت کې راووت چې لکړه یې په لاس او د ناروغۍ نښې له ورایه پرې څرګندې وې. زما په لیدلو ډېر خوښ شو، راغاړې وت د څو شېبو لپاره یې په غېږ کې ونیولم. کېناستلو د روغ او ناروغ له پوښتنو وروسته یې راته کړل پوره دوه کاله وشوه چې نه یې راغلی خو اوس دې هم کور ودان چې زموږ حال دې واخیست.!

سوړ اسوېلی یې وایست زیاته یې کړه: څومره ځوانان و چې دلته به راتلل، خو اوس شهیدان شوي، د ځان کابو کولو هڅه یې وکړه خو اوښکې یې په سترګو کې ډنډ شوې. بیا یې د سولې د خبرو پوښتنه وکړه چې کوم پرمختګ اوامېدواري پکې نه ده تر سترګو شوې؟ دا سپین ږیری د فراه ولایت خاکسفید ولسوالۍ د رنج کلي اوسېدونکی و.

داسې احساس مې وکړ چې د نسبي امنیت او د امریکایي ځواکونو د عملیاتو د دربېدا له وجهې چې د مجاهدینو په ګرځېدلو کې کوم کمښت راغلی او دا چې مجاهدینو خپل مرکزونه فعال کړي، ولسي وګړو ته هماغه وختونه ډېر یادیږي. د ډېرو خلکو نه مې اورېدلي چې د مجاهدینو نه ګیله من دي او وایي په سختیو او مشکلاتو کې مو پوښتنه کوله اوس نه راګرځئ.

دا چې په روان جهادي بهیر کې ملت زموږ سره خواکې په خورا صمیمیت ودرېد، متضرر شو، جایدادونه او کورونه یې ویجاړ شول. موږ هم باید د ولس هغه خدمتونه هېر نه کړو هغه مشهوره خبره چې وایي: «کله چې هدف ته ورسېږې نو هغه څوک مه هېروه چې لارې درښودلې وه».

الله تعالی دې موږ ته توفیق راکړي، چې دملت د ستر احساس شکریه اداء کړو، خدمت یې وکړو، د شهیدانو د کورنیو او خپلوانو احوال یې واخلو او تر وسه د دوی په غم او خوښیو کې ورسره برخه واخلو.

***

### د امریکایي ښکېلا ګګرو د چاپو څرنګوالی!

امریکایي ځواکونو زموږ په هېواد کې د ریکارډ تر کچې ظلم، وحشت او ورانی وکړ...

یو له هغو وحشونو څخه چې ښایي په زرګونو ځله یې تکرار کړې وې، هغه چاپې دي چې دوی به د یوې اغېزمنې وسیلې په توګه کار ترې اخیست. دا چې دوی به په څه شکل په کلیو، باندېو، ګنجونو، مېلو او د خوښیو په مراسمو چاپې اچولې، د نمونې په توګه به یې څور ډولونه درته بیان کړو.

په لومړیو وختونو کې کله چې د مجاهدینو فعالیتونه کمرنګه وو، نو دښمن د شپې د تیارې نه په استفادې دشوبلو او ټانګونو پر مټ په کلیو باندې چاپې اچولې، تلاشۍ یې اخیستلې او د مرستې لپاره یې په هوا کې جنګي جټ پروازونه کول، کله چې به یې یوه ساحه محاصره کړه نو په لاوډسپیکرونو کې به یې نعرې وهلې، چې ائتیلافي ځواکونه ستاسو د مرستې لپاره راغلي، هیڅوک دې د خوځېدلو کوښښ نه کوي.

څرنګه چې حالات تر ډېره د دوی په ګټه وو نو په کرارۍ یې د کورونو تلاشۍ اخیستلې او چې خپل هدف ته به ورسېدل نو حرکت به یې وکړ. د څه وخت په تېریدلو د چاپو ډول او نوعیت بدل شو...

# بحران غزه و شجاعت کم‌نظیر مردم آن سرزمین

**نویسنده: عبدالمجید ایوبی**



شهر غزه حدود چهل کیلومتر طول، شش کیلومتر عرض و حدود دو میلیون نفوس دارد؛ مردمی که سرزمین‌شان را غربی‌های اشغال‌گر که در راس آن‌ها انگلیس بود به صهیونیست‌های غاصب واگذار نمودند، و پس از اشغال زمین‌های‌شان، در زندانی به‌دون سرپوش به نام غزه به سر می‌برند. بعد از سال ۱۹٤۷م که انگلیس عملاً دست به چنین جنایتی زد تا به امروز مردم این سرزمین از طرف صهیونیست‌های غاصب مورد ظلم قرار می‌گیرند؛ از رانده‌شدن از خانه‌ها گرفته تا زندان و شکنجه که زنان و کودکان‌شان نیز از این مورد، مستثنی نیستند .

از آن‌جایی که منطق و زبان صهیونیست‌های غاصب چیزی جز زور، ظلم و استبداد نبوده، همواره این مردم مظلوم را در زندان‌ها و خارج از آن، مورد شکنجه‌های مختلف قرار می‌دادند. طی این‌همه ظلم، مردم مظلوم فلسطین هرچند بیشتر خوش می‌نشستند و سکوت می‌کردند، به همان مقدار، بیشتر مورد ظلم و آزار قرار می‌گرفتند و با سکوت‌شان، دشمن غاصب، روزبه‌روز جسورتر می‌گشت و جنایاتش بیشتر می‌شد.

این جنایات ٧٦ سالهٔ صهیونیست‌ها، مردم این سرزمین را مجبور نمود تا راه چاره‌ای بسنجند و خود را از این وضعیت اسف‌بار رهایی بخشند؛ بنابراین در تاریخ ٧ اکتبر ۲۰۲۳م، مصادف با ۲۲ ربیع‌الاولِ ١٤٤٥ هـق، ١٥ میران ١٤٠٢ هـش، دست به عملیاتِ مبارک «طوفان الاقصی» زدند و این تنها عملیات تهاجمی‌شان طی ٧٠ و چند سال اخیر بود. حدود ٧٧ روز از عملیات مذکور می‌گذرد و صهیونیست‌های خون‌آشام دست‌به‌دست غربی‌ها، مخصوصاً آمریکا داده و علیه این شهر کوچک جمع شده‌اند و از هیچ جنایتی علیه مردم این شهر دریغ نمی‌ورزند؛ بمبارد خانه‌ها، اماکن مسکونی، مساجد، شفاخانه‌ها و کشتار اطفال و مردم ملکی، همهٔ این‌ها بخشی از جنایات روزانهٔ صهیونیست‌ها و همکاران غربی‌شان در این شهر کوچک است.

در این بخش، برای روشن‌شدن بیشتر این قضیه، راپور خبرگزاری تی‌آرتی با شما به اشتراک می‌گذارم تا به عمق فاجعه، پی برده و به آمار دقیق قربانیان آگاه شوید.

راپور خبرگزاری تی‌آرتی که در تاریخ ٢٤ دسامبر، سال جاری منتشر شد:

«تعداد فلسطینیان کشته‌شده در نوار غزه که از هفتم اکتبر در معرض حملات شدید اسرائیل قرار دارند به ۲۰ هزار و ۲٥٨ نفر رسید».

وزارت بهداشت غزه با نشر اطلاعیه‌ای در این باره می‌گوید:

«در حملات ٢٤ ساعت گذشته اسرائیل ۲۰۱ فلسطینی جان باخته و ٣٦٨ نفر زخمی شدند. تعداد قربانیان حملاتی که از ٧ اکتبر تاکنون ادامه دارد به ۲۰ هزار و ۲٥٨ نفر و مجروحان به ٥٣ هزار و ٦٨٨ افزایش یافته است».

صندوق کودکان سازمان ملل متحد (یونیسف) با بیان این‌که با حملات مداوم اسرائیل بر غزه، گرسنگی در این شهر به سطح اضطراری رسیده است، اعلام کرده است که ٣٣٥ هزار کودک زیر ٥ سال، به دلیل سوء تغذیه در معرض خطر مرگ قرار دارند.

دیده‌بان حقوق بشر اروپا-مدیترانه گزارش داده است که «اظهارات شاهدان عینی بیان‌گر این است که ارتش اسرائیل بسیاری از افراد بالای ٦٠ سال را که در غزه جان خود را از دست داده‌اند، اعدام کرده است».

اسرائیل با حملات و نسل‌کشی ٧٨ روزهٔ خود به نوار غزه، میراث فرهنگی فلسطین را نیز هدف قرار داده و تا کنون حداقل ١٣ شاعر و نویسندهٔ غزه‌ای را به قتل رسانده است، و علاوه بر این، تعداد خبرنگاران کشته‌شده در این حملات، به ١٠١ نفر افزایش یافته است.

توماس وایت مدیر آژانس امدادرسانی و کاریابی غزه برای آوارگان فلسطینی در خاور نزدیک (آنروا) در پستی در حساب کاربری ایکس این آژانس در شبکه‌های اجتماعی اعلام کرد: در نوار غزه بدون تحمیل شرایط مذاکرات سیاسی به آتش‌بس فوری و بشردوستانه و کمک نیاز است.

وی می‌افزاید: آن‌هایی که در غزه هستند، انسان هستند، نه مهره‌های روی صفحه شطرنج! بسیاری از آن‌ها قبلا چندین‌بار آواره شده‌اند. مردم جایی برای رفتن ندارند. هیچ مکان امنی وجود ندارد. در حملات شدید اسرائیل به نوار غزه از ٧ اکتبر تا کنون ٥٥ هزار خانه به‌طور کامل ویران، و ٢٣ بیمارستان از دسترس خارج شده‌اند.

وزارت امور خارجهٔ فلسطین طی اطلاعیه‌ای دولت اسرائیل را به تلاش برای جلوگیری از اجرای قطعنامه ٢٧٢٠ شورای امنیت سازمان ملل متحد دربارهٔ ارسال کمک‌های بشردوستانه به نوار غزه متهم کرد.

در این اطلاعیه خواستار تشدید تلاش‌های بین‌المللی برای تصمیم‌گیری در شورای امنیت سازمان ملل برای پایان‌دادن به جنگ در نوار غزه و تامین آتش‌بس فوری شده و هشدار داده شد که هر لحظه ممکن است اسرائیل کل نوار غزه را نه تنها برای مردگان بلکه برای زنده‌ها نیز به گور دسته‌جمعی تبدیل کند.

تا این‌جا فهمیدیم که در نتیجهٔ جنایات صهیونیست‌ها با تبانی غربیان، در این شهر کوچک چه می‌گذرد؛ اما عمق قضیه فراتر از آن است که ما تصور می‌کنیم.

حالا برمی‌گردیم به اصل موضوع؛ یعنی شجاعت بی‌نظیر مردم غزه

مردم غزه در طول این مدت شجاعت کم‌نظیری را از خود به نمایش گذاشتند که یقینا ثمره‌ای دارد به نام عزت، سربلندی و آزادی که جز با قربانی‌دادن میسر نمی‌شود.

مردم غزه با آن‌که سرزمین‌شان کوچک و جمعیت‌شان اندک است، در مقابل صهیونیست‌ها ایستادگی کردند و بردگی را نپذیرفتند، در حالی‌که در این عصر، ملت‌های بزرگ و زیادی از همین بردگی و نداشتن آزادی رنج می‌برند.

مردم غزه پس از این جنایات و مقاومت‌شان در برابر صهیونیست‌ها، یک حقیقتی را برای همه عیان نمودند، و آن این است که بسیاری از ملت‌ها فقط به نام آزادند و بس و در حقیقت برده و گوش‌فرمان غرب‌اند، و این تنها غزه است که بردگی را نپذیرفته است.

صهیونیست ها با تبانی غربی‌ها در صدد سلب آزادی غزه نیز هستند، اما این‌جا غزه است و معادله فرق می‌کند؛ زیرا با آنکه غزه شهر کوچکی‌ست اما مردانی دارد با دل‌های بزرگ و اراده‌های فولادین، و مادرانی دارد که فرزندان‌شان را صلاح الدین‌گونه تربیت نموده‌اند.

مردم غزه می‌دانند که مقابله با صهیونیست‌ها یعنی رویارویی مستقیم با غرب؛ اما این را نیز می‌دانند که این تنها راه عزت و شرافت است، و تن‌دادن به خواسته‌های‌شان به معنای اشغال کامل و نابودی سرزمین‌شان است.

غیورمردان غزه با اراده‌های فولادین‌شان، مسئولیت آزادی مسجدالاقصی و وظیفهٔ عزت و سربلندی امت اسلامی که مسئولیتی بسا بزرگ است را به دوش کشیده‌اند و می‌دانند که آزادی مسجدالاقصی و زندگی باعزت و آبرومندانه، قربانی می‌خواهد؛ بنابراین خود را برای چنین قربانی‌ای آماده کرده‌اند؛ زیرا اگر امروز چنین قربانی‌ای نپردازند، فردا با ذلتی روبه‌رو خواهند شد که مرگ هزاران بار بهتر از ان است؛ پس خوب است قبل از آنکه با ذلت اشغال کامل روبه‌رو شوند و از مابقی سرزمین‌شان نیز رانده شوند، قهرمانانه از ارزش‌ها و داشته‌های‌شان دفاع کنند و به‌خاطر سربلندی دین الله و حفظ عزت امت اسلامی به میدان جهاد بیاند و پا به مسیری بگذارند که پیروزی‌شان در آن حتمی‌ست. ان‌شاءالله

مردم غزه می‌دانند که ملت‌هایی که به خواسته‌های غربی‌ها تن داده و اشغال مستقیم و غیر مستقیم آن‌ها را پذیرفته‌اند، سرنوشتی جز ذلت و رسوایی نداشته و نخواهند داشت.

مردم غزه با استقامت و پایداری کم‌نظیرشان روزبه‌روز به پیروزی نزدیک‌تر می‌شوند و به زودی شاهد پیروزی مردم فلسطین در برابر صهیونیست‌ها و آزادی کامل مسجدالاقصی و فلسطین، خواهیم بود. ان‌شاءالله.

# کمونېزم او د افغاني کمونستانو جنایتونه

مولوي عبدالهادي (مجاهد)

دا فعالیتونه تر دې ورسېدل چې یوه لویه برخه د هېواد خلک چې زیات یې ځوانان ول په خپل صف ور داخل کړي. دې نویو او پر جوشه ځوانانو د دې نظریاتو په خپلولو له ملا، اسلامپالي، حاجي، مخور او ولسي مشر سره دښمني پیل کړه او الله تعالی، قرانکریم، پیغمبر او دین ته په سپکاوي یې پیل وکړ. تر دې چې د دې ګوند ټول نظریات د کفارو په توګه په ټول هېواد کې د خلکو تر منځ علني شول او د خلکو حساسیتونه او له دین څخه د دفاع احساسات یې راوپارول.

د دې ګوند د نظریاتو او پیروانو په خلاف د خلکو اسلامي احساسات راوپارېدل او د مخالفت لپاره یې د مسلمانانو فکري او سیاسي بهیر په جوړېدو او ځوانان ورکې په منظمېدو شول چې ځینو یې له مدرسې، مسجد او محرابه سر راپورته کړ او ځینو یې له لیسو، پوهنتونو او تعلیمي مراکزو. په پوهنتونو کې محصلین له خپلو هغو اسلامپالو استادانو څخه چې په مصر کې یې زده کړې کړې وې او د مصر له مسلمانانو دعوتګرانو په خاص ډول له (الاخوان المسلمون) څخه یې اسلامي فکر اخیستی وو متاثر شول او د ګروپونو او تنظیمونو په شکل یې د کمونستانو په خلاف لوری ونیو.

اسلامپالو استادانو به د اسلامي فکري ادبیاتو په ژباړلو د ځوانانو افکار جوړول او هغوی به یې له کمونستانو څخه د خپل دین او وطن د دفاع په روحیه روزل. دې سرشاره او با احساسه ځوانانو چې د انجنیر حکمتیار، استاد رباني او استاد سیاف په څېر خلک هم په کې ول، عملاً د کمونستانو خلاف مبارزې ته داخل شول او د هغوی د مخنیوي فعالیتونه یې پیل کړل.

ظاهر شاه چې د اسلامپالو راپورته کېدل ولیدل نو هغوی یې تر فشارونو لاندې راوستل چې دې کار د کمونستانو تقویه کېدلو ته نوره هم زمینه سازي وکړه. دوی په دولتي ادارو کې د خپل فکر او تګلارې خلک پیدا کړل او په پوځ کې یې د خپلو عقائدو په نشرولو پیل وکړ، چې له امله یې زیات ټیټ رتبه او ځینې لوړ پوړي پوځیان هم ورخپل کړل.

هغه وخت چې د ظاهر شاه د تره زوی او اخښي داود خان پر ظاهر شاه سپینه کودتا وکړه او واک یې تر لاسه کړ، نو په خپله کابینه کې یې کمونستانو ته هم ځای ورکړ، ځکه چې له یوې خوا کمونستانو زیات نفوذ درلود او له بلې خوا شوروي اتحاد د هېواد په څنګ کې قرار درلود چې له کمونستانو سره یې ټینګې اړیکې لرلې. داود خان غوښتل د کمونستانو په واسطه له شوروي سره اړیکې لا ټینګې کړي، تر څو یې له اقتصاد، تخنیک او قدرت څخه استفاده وکړي چې په دې کار کې یې ځانته د کمونستانو ورنژدې کول مناسب ګڼلي وو.

داود خان د خپل حاکمیت په وخت کې د بریژنف د ملاقات لپاره شوروي ته په سفر لاړ، خو هلته برژنف د ده د توقع خلاف رویه ورسره وکړه چې دې کار داود خان ته غوسه وروسته او د مجلس له جریانه راووت. دی که څه هم دین ته ډېر وفادار او متقي انسان نه وو، خو دې پېښې ده ته تکان ورکړ او په دې یې پوه کړ، چې روسان د ده د زوال سبب کېدای شي.

له ماسکوه له راستنېدو وروسته په دې فکر کې شو، چې د شوروي پر ځای باید له نورو سیمه ییزو او په خاص ډول له عربي او نورو ګاونډیو هېوادونو سره خپل روابط ښه او اقتصادي تعامل ته وده ورکړي، نو هماغه وو چې لومړی یې سعودي ته سفر وکړ او هلته یې له ملک فیصل سره وکتل، بیا پاکستان ته وروګرځېد او له بوټو سره وکتل، چې له امله یې له دې هېواد سره خرابې شوې اړیکې بېرته ترمیم کړې. وروسته پر نورو اسلامي هېوادونو وګرځېد او د هغو هېوادونو له مشرانو سره یې وکتل. له ده سره په دې سفر کې د ده د تجارت کمونست وزیر محمد خان جلالر هم ملګری و، چې دا ټول جریانات یې څارل. جلالر چې له داود خان سره د روسانو په بده وضع خبر وو د داود خان په نویو عزایمو پوه شو او هم یې تر دې وروسته د کمونستانو خرابېدونکې برخلیک درک کړ.

داود خان چې کله د دې هېوادونو له سفره هېواد ته راستون شو، سمدسي یې د کمونستانو مشران زندان ته ولېږل. دا کار یې له دین او اسلام سره د خواخوږۍ پر بنیاد نه وو، بلکې د دې پخاطر چې هغوی د ده په خلاف راپورته نه شي او کودتا ونه کړي، خو کمونستانو تر دې وخته خپلې ریښې په ټولو تعلیمي او پوځي مراکزو او دفاترو کې غزولې او ټینګې کړې وې. حفیظ الله امین او ملګري یې ترکي مخکې له مخکې د داود خان په خلاف د کودتا نقشه او پلان طرحه کړي وو. کله چې داود خان ترکی او ببرک زندان ته ولېږل، په امین پسې یې هم پولیس ولېږل. د لېږل شویو پولیسو مشر جګړن عبدالغني ته وظیفه ورکړل شوې وه چې حفیظ الله امین ونیسي او توقیف خانې ته یې واچوي. هغه د ثور د شپږمې په شپه د حفیظ الله امین کور ته ورغی، د هغه کور یې تلاشي کړ، خو د دې پر ځای چې امین له ځان سره توقیف خانې ته ورسوي، تر سهاره یې په خپل کور کې نظر بند کړ، چې ځینې خلک دا د هغه وظیفوي غفلت بولي او ځینې نور یې بیا د چپیانو لوري ته د هغه د تمایل له امله قصدي کار بولي.

د جګړن عبدالغني دا کار چې امین یې په شپه کې بندي نه کړ، بلکې تر سهاره په خپل کور کې د پاتې کېدو فرصت ورکړ، د کمونستانو د کودتا عملي کېدو زمینه برابره کړه، ځکه د همدې شپې په سهار وختي امین خپل زوی عبدالرحمن ته یو کوچنی خط چې د کودتا د عملي کولو امر ورکړ چې د ګوند د مرکزي کمیټې غړي سید محمد ګلاب زوی ته یې ورسوي. دا لیک په حقیقت کې د ګوند د نظامي مسؤول حفیظ الله امین لخوا د کودتا فرمان و، سید محمد ګلاب زوی د ثور شپږمې له سهاره بیا د شپې تر یوې بجې پورې په اردو او ټولو ادارو کې خپلو کسانو ته د سبا ورځې د کودتا پیغام ورساوه. د ثور په شپږمه حفیظ الله امین توقیف خانې ته واچول شو، خو په داسې حال کې چې هغه لا سهار وختي له خپله کوره د کودتا فرمان جاري کړی و. د کودتا نقشه د ده د ګوند د پاتې مسؤولینو په واک کې ورکړل شوه. ګوند هم د نقشې د عملي کولو بېړنی اقدام وکړ. د کابل د زره دارو له فرقې، د بګرام له هوایي میدان او د ښار له نورو عسکري قرارګاوو پوځي افسران راپورته شول، ارګ یې محاصره کړ، بیا یې بمبار پرې وکړ او داود خان یې له خپلې کورنۍ سره یو ځای وواژه.

د داود خان له وژلو وروسته کمونستانو زندان مات کړ او د ګوند ټول کمونست مشران یې له زندانه راوویستل. سم دستي وروسته اسلم وطنجار په راډیو ټلویزیون کې اعلان وکړ، چې داود خان او د یحیی د کورنۍ حاکمیت له منځه ولاړ، انقلاب کامیاب شو او نور به په هېواد کې ډېموکراتیک ګوند حاکم وي.

د کمونستانو له راتګه وروسته په هېواد کې یو نوی عهد پیل شو. په هېواد کې ۱۴ کاله جنګ او وینې توییدل، د ۲ میلیونه افغانانو وژل کېدل، د ۵ میلیونه افغانانو مهاجر کېدل او ټول هېواد په کنډواله بدلېدل د دې عهد لویې مادي لاسته راوړنې دي. دا چې د افغان ولس معنویاتو ته یې څومره لویه ضربه ورکړه هغه نه اټکلېدونکې ده.

## افغانستان کې د کمونستانو جنایتونه

د ۱۳۵۷هـ ش کال د ثور ۷مه چې کله کمونستانو پر داود خان کودتا وکړه، داود خان یې وواژه او واک یې په لاس کې واخیست، نو خپل نوی رژیم او د داود خان د نظام له منځه وړلو ته یې (د ثور د انقلاب) نوم ورکړ. دغو ثوریانو په هېواد کې د اصلاحاتو په نامه په یو لړ داسې اقداماتو لاس پورې کړ، چې د دوی د نظام په خلاف یې د ټول ولس احساسات راوپارول او پر وړاندې یې راپورته شول. هغه اقدامات اوږد نوملړ لري چې دلته یې د ځینو یادونه کوو.

کمونستانو له حاکمېدلو سره سم د کمونېزم د نظریې عملي کول پیل کړل او بیا یې د دې په خاطر چې د شریعت اصول او احکام یې د خلکو له ژونده وېستلي وي کرار کرار یې په مختلفو بهانو او توطیو د خلکو په شخصي چارو او شرعي امورو کې لاسوهنه پیل کړه.

مثلاً: لومړۍ لاسوهنه چې دوی د خلکو په شخصي امورو کې پیل کړه دا وه چې د ښځو لپاره یې یوازې ۳۰۰ افغانۍ مهر وټاکه، که هر چا به د خپلې خور او یا لور لپاره تر دې زیات مهر ټاکلی و، هغه به د دوی د قانون له مخې مجرم ګڼل کېده او دا پداسې حال کې چې د شریعت له مخې د مهر لپاره آخري حد ټاکل شوی نه دی، بلکې د جانبینو ترمنځ توافق ته پرېښودل شوی دی.

همدا ډول یې د بل فرمان په صادرولو د خلکو د شخصي ملکیت او د ځمکو په قبضولو کولو پیل وکړ. که هر چا به له دیرش جریبه زیاته ځمکه درلوده ټوله به حکومت ترې قبضه کړه. دولتي ملکي او امنیتي مامورین به د یوه مارش په توګه هغو ځمکو ته لاړل، بیا به یې د ځمکې مالک په ډېره ذلیله توګه راوست، ښځینه او نارینه خلقیانو به هلته اتڼونه او ګډاوې وکړې، د کلیو سپین ږیري به یې هم وګډول، له درې، څلورو مکاتبو به یې شاګردان راوستل، بیرغونه به یې په لاس کې ورکړي وو، سرې جامې به یې ور اغوستې وې، ټولو به د (هورا) (هورا) نارو په وهلو لومړی خوشحالي وښوده او وروسته به یې که کوم چا د دوی له ټاکلي حده زیاته ځمکه درلوده، نو له هغې به یې ۳۰ جریبه ور پرېښوده او نوره ټوله به یې ورڅخه مصادره او د همدې مالک پر دهقانانو او بزګرانو ور تقسیم کړه.

د یو چا شخصي ملکیت په دې توګه بل چاته ورکول د شریعت له مخې جائز کار نه دی. د اسلام سپېڅلی دین د هر څه لپاره عادل نظام لري. که هر څوک هر څومره ډېره ځمکه ولري اسلام یې په زوره ورڅخه د اخیستلو اجازه نه ورکوي، البته اسلام بیا د همدې ډېرې ځمکې په حاصل کې د مسکینانو خپله حصه ټاکلې ده. الله تعالی فرمایي:

(وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ (٢٤) لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ (٢٥))[سورة المعارج: ۲۴، ۲۵]

ژباړه: او هغه خلک هم بې صبره او حرصناکه نه دي، چې په مالونو کې یې (د زکات او صدقاتو په شکل کې) معلوم حق دی د فقیرو غوښتونکو او هغو فقیرانو لپاره چې غوښتنه نه کوي.

الله تعالی د مالدارو په مال کې د نادارو خلکو لپاره معلوم حق ټاکلی، چې هغه د عشر، سرسایې، زکات او د صدقې نور مختلف حقونه دي، خو کمونستانو په دغه طریقه باندې نه بلکې د کمونیزم د نظریې مطابق له مالدارو څخه کارګرانو ته ورکړه کوله او د دې لپاره چې د کارګرې طبقې خلک د مالدارو پر وړاندې راوپاروي، نو له مالدارو خلکو به د هغوی شخصي ملکیت قبضه کاوه او داسې چاته به یې ورکاوه چې هغه به یې په شرعي لحاظ مالک نه وو. کمونستانو دا کار ځکه کاوه چې دوی نه (اِله) مانه، نه یې د هغه دین او قران مانه، نه یې سنت پېژندل او نه یې هم شریعت ته په درنه سترګه کتل.

الله تعالی د زکات، عشر، سرسایې او صدقې په ټاکلو سره د مالداره او نادارو خلکو تر منځ نور هم د اخوت، ورورولۍ او صمیمت فضا پراخوي، خو د دې خلاف کمونیزم له مالدار څخه په زوره د شخصي ملکیت په اخیستلو او بیا هغه چاته په ورکولو چې د دې ځمکې لپاره کارکوونکی ټاکلی شوی وي، د مالدارو او نادارو ترمنځ د دښمنۍ او خصومت فضا رامنځ ته کوي.

کله چې کمونستانو د شخصي ملکیت د لغوه کولو په هدف پدې ډول اقداماتو پیل وکړ، نو متنفذ، مالداره او د ځمکو اصلي مالکان د ټیټې طبقې په لاس ذلیل او سپک شول، چې دې کار په ټولنه کې د کارګرې طبقې او د ځمکو د اصلي مالکانو ترمنځ جنجالونه، جنګونه او حتی وژنې رامنځته کړې.

دا چې مالداره طبقه محکومه وه، نو یې بهرنیو او همسایه هېوادونو ته یې هجرتونه پیل کړل. په هېواد کې جنګونو زور واخیست، دهقانان او غریبان هم د کمونستانو او بیا وروسته د روسانو د وحشیانه بمباریو له لاسه د وطن پرېښودلو ته اړ شول چې له امله یې ځمکې شاړې پاتې شوې. د اوږدې مودې جګړې له امله په هېواد کې ځمکې بې خاونده شوې او د هېواد او خلکو اقتصاد ته نه جبرانېدونکې ضربه ورسېده. کمونستانو د خپل حاکمیت د بقا لپاره د ولس په ځپلو پیل وکړ. په دې برخه کې حاکم نظام د ډېرو لویو او بې رحمانه جرمونو مرتکب شو چې ځینې یې د نمونې په توګه په لاندې ډول دي:

د کابل په ښار کې ولس د کمونستانو په خلاف راپورته شو، د الله اکبر نارې یې وهلې، او دا یې ویل چې پر خپله خاوره د کمونستانو تسلط نه غواړو، له کمونیزم څخه بېزاره یو او د خپلې خاورې آزادي غواړو. کمونستانو یې پر وړاندې عکس العمل وښود او د دې پاڅون ۵۰۰۰ ګډون کوونکي یې ووژل چې له امله یې د کابل جادې ټولې د ولسي خلکو له شهیدانو ډکې شوې.

څه وخت وروسته په هرات کې خلکو په پاڅون لاس پورې کړ، ویل موږ له کمونیزم څخه بېزاره یو، نه د هغو ظلمونو زغم لرو چې کمونستان یې پر ولسي وګړو کوي او نه هغه الحادي عقاید منو، چې کمونستان یې پر خلکو تپي او نه هم د دغه ډول نظام د برداشت توان لرو، چې په مکمله توګه د ولس له اسلامي مزاج سره په ټکر کې دی، موږ یوازې د اسلام سپېڅلی دین غواړو. کمونیست نظام د دې خلکو پر وړاندې هم عکس العمل وښود، طیارې، ټانګونه او نور جنګي وسایل یې راوستل او په دوو ورځو کې یې نیږدې ۲۴ زره انسان له ووژل. داسې هم پېښ شول چې ژوندي انسانان یې له ځمکې پورته کړل او له فضا یې ځمکې ته راوغورځول او شهیدان شول.

د کمونستانو د تسلط په وخت کې خو به داسې ډېر پېښېدل چې په زرګونو روسان به پر یوه ولایت یا ولسوالۍ ورغلل او په یوه ځل به یې په زرګونو کسان ووژل چې د ساري په ډول یې څو لاندې پېښې یادوو:

د کونړ د اسعد اباد شمال ته له پله ورهاخوا د (کیرالې) کلی واقع دی، دې کلي ته پرلاره د کونړ د سیند پر سر له پله لږ ور تېر په چپ طرف کې یوه سیمه چې اوس پکې د لرګیو د خرڅولو ځایونه دي له دوو لویو قبرونو لویې کلاوې راتاو دي. یو یې ۳۶ متره اوږد او بل یې ۵۲ متره اوږد دی. ما ( لیکوال مولوي عبدالهادي مجاهد) ته د دې قبرونو په اړه د دې پېښې عیني شاهد د (کیرالې) د کلي اوسېدونکي مامور (سید احمد) چې زه ورسره د همدې قبرونو پر سر ولاړ وم دا واقعه داسې بیان کړه: ((... په هغه وخت کې مجاهدینو له حکومت سره تر جګړې وروسته د کیرالي کلي ته پناه راوړه او پټ شول، د کونړ والي کلي ته راغی او امر یې وکړ چې د کلي ټول خلک دې را غونډ شي تر څو والي ورسره خبرې وکړي. خلک ټول دې سیمې ته راغلل، زه هغې ونې (یوې ونې ته په اشاره) سره نژدې د ښځو په منځ کې پټ وم او صحنه مې له نژدې په خپلو سترګو لیدله. کله چې کمونستان مطمئن شول چې ټول خلک راغلل، نو پوځیانو ته یې د خلکو د ویشتلو امر وکړ، پوځیانو په بې رحمۍ پر بې وسلې خلکو ډزې پیل کړې او په یوه څو لحظو کې یې یوولس سوه او درې اویا ۱۱۷۳تنه په شهادت ورسول)).

د لغمان د ولایت د الیشنګ ولسوالۍ د نجیلو د کلا په سیمه کې کمونستانو د شپې لخوا تقریباً ۶۰۰ ولسي خلک راټول کړل، په بلډوزرونو او ماشینونو باندې یې کندې ورته وایستلې او ټول یې ژوندي تر خاورو لاندې کړل. دا ټولې واقعې د استاد محمد زمان مزمل د (اسباب الإحتلال و ابعاد المقاومة في افغانستان) په کتاب کې هم ثبت دي.

همدارنګه به کمونستانو په ښارونو، کلو او اطرافو کې تقواداره، متدین او دینداره خلک چې یا به یې ږیره پر مخ درلوده، یا به پنځه وخته لمانځه ته تلل او یا به یې کورنۍ د دینداری تاریخ درلود په زندانونو کې اچول او شکنجې به یې ورکولې. کمونستانو به بې له محاکمې خلک وژل او د بتخاک او یا د پلچرخي خوا ته د پولېګون په سیمه کې به یې په ټوپکو ویشتل او له وژلو وروسته به یې خاورې پر ورواړولې. په ځینو حالاتو کې به یو دوه له خاورو ژوندي هم را وتل. زما (عبدالهادي مجاهد) څو کاله مخکې د لغمان د الیشنګ له یوه داسې مجاهد سره کاته وشول، چې د مرګ له کندې بېرته ژوندی راوتلی و. هغه ته به د سیمې خلکو د (ملا شهید) نوم اخیست. هغه خپله ټوله واقعه راته بیان کړه. هغه راته وویل: ((کله چې یې ډزې راباندې وکړې، خاورې یې راباندې واړولې او را څخه ولاړل، ما ځان ژوندی احساس کړ، خاورې مې له ځانه واړولې ومې کتل چې زخمي هم نه وم، له کندې راووتم او یوه کلي ته مې پناه یووړه)).

په دغه ډول به کمونست دولت په زرګونو او په لسګونو زره افغانان ووژل. خلک به یې د اخواني، ملا او د انقلاب ضد عناصرو په نامه نیول، زندانونو ته به یې اچول او په شهادت به یې رسول.

کمونستانو په افغانستان کې د مسلمان ولس د عقیدې، شریعت او معنوي ارزښتونو سپکاوی وکړ او د خلکو د دیني هویت د مسخ کولو اقدامات یې ترسره کړل. د هېواد ځوانان به یې په زوره د مجاهدینو په خلاف جګړې ته سوق کول چې له همدې امله به ځوانان د حکومت د تسلط له سیمو وتل، چې په نتیجه کې یې کلي له ځوانانو خالي شول او د هجرت لار یې ونیوله.

په ۲۰۱۳م کال کې د سپتمبر په ۱۹ تاریخ د هالېنډ لویې څارنوالۍ د شاوخوا پنځه زره کسانو یو لست خپور کړی، چې په ۱۹۷۸ او ۱۹۷۹ م کلونو کې په افغانستان کې د هغه وخت د استخباراتي ادارې (اګسا) له خوا وژل شوي ول. دې ادارې د امان الله په نوم د یو افغان پناغوښتونکي په اړه د څېړنو په بهیر کې چې یو مهال د (اګسا) نومې پلټونکې ادارې مشر وو، دا لیست تر لاسه کړی و.

امان الله په ۱۹۹۳م کال کې هالېنډ ته پنا وړې وه. نوموړي د هالېنډ د کډوالو ادارې له چارواکو سره په مرکه کې منلې وه چې د اګسا د تحقیقاتي څانګې مشر و او د هغو کسانو پر اسنادو یې لاسلیک کړی و، چې باید اعدام شي.

نوموړي په خپلو خبرو کې ویلي وو، چې دا یې د دندې برخه وه او که یې دا کار نه کاوه، نو پر دومره لویه او حساسه دنده نه شوای ټاکل کېدای. په تر لاسه شویو اسنادو کې دا کسان بنسټپاله مسلمانان، متفکرین، محصلان، د عامه خدمتونو مامورین، پوځي افسران، دکانداران او اشرار بلل شوي وو. د دغو شهیدانو وارثینو او خپلوانو یې څو دیرش کاله وروسته د خپلو شهیدانو فاتحې واخیستې.

کله چې د کمونستانو د الحادي عقایدو، مظالمو او وحشتونو پر وړاندې د مجاهدینو په شکل افغان ولس راپورته شو، نو دوی ورته د اشرارو نوم ورکړ، چې وروسته بیا د دوی په مطبوعاتو او رسنیو کې مجاهدینو ته رسمي نوم وګرځېده.

کله چې روسان راغلل، نو بیا به روسانو او افغاني کمونستانو په شریکه خلک بمباردول او وژل. دوی به پوره کلي ورانول او اوسېدونکي به یې وژل. ځوانان، سپین ږیري، ماشومان، ښځې، ناروغان، ضعیفان، حیوانات او هر څه به چې په مخه ورتلل له یوې مخې به یې پرې ډزې کولې او وژل به یې. یو ځل روسان او کمونستان زموږ خپل کلي ته را داخل شول او چې کله یې له بل سره وتل نو ۵۲ کسان یې وژلي ول. روسانو او کمونستانو په ټول افغانستان کې پراخ وحشتونه او او زړه بوږنوونکي جنایات تر سره کړل، د هغه جنایاتو شاهدان لا تر اوسه ژوندي دي چې د ترسره شویو جنایاتو کېسې باید ورڅخه ولیکل شي او د تاریخ په حیث خوندي شي.

**نور بیا...**

# په اسلام کې د نرمۍ او سختۍ پالیسي:

**مولوي نورالحق مظهري**

اسلام د اعتدال او میانه روۍ دین دی او په هیڅ شي کې افراط او تفریط ته اجازه نه ورکوي ځکه نو د انسانانو حالاتو او طبیعتونو ته په کتو یې د آسانۍ او سختۍ دواړي پالیسۍ ایښي دي او د کائنات د نظام خوندي کېدلو او انساني بې بندوباریو مخنیوي لپاره یې دعوت او جهاد دواړه مشروع کړي دي لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمایي: انا نبي الرحمة، انا نبي الملحمة.[السیاسة الشرعیة] ژباړه: زه د رحمت نبي یم، زه د جنګ نبي یم.

هدف ددې څخه دا دی چې زه رحمت هم یم او نرمي کوم همدا راز جنګونه هم کوم.

له همدې امله چې اسلام د اعتدال او میانه روۍ دین دی نو دواړو جهتونو ته پکښې خاصه پاملرنه سوېده؛ هم د نرمۍ لوري ته او هم د سختۍ او جنګ لوري ته.

په کومو ځایونو کې چې نرمي او دعوت ګټور واقع کېږي هلته دي د نرمۍ څخه کار واخیستل سي او په کومو ځایونو کې چې جنګ او سختۍ ته اړتیا پیدا کېږي هلته دي بیا جنګ وسي؛ د همدغه حکمت پر اساس په اسلام کې جهاد مشروع سوی دی تر څو د زورواکو انسانانو سره د زور په ژبه خبره وسي؛ همداسي شرعي حدود او تعزیرات مشروع سویدي تر څو نا اهله او لنډغر انسانان د مجازات له ویري پر لاره باندي برابر سي.

که د رسول الله صلی الله علیه وسلم او اصحابو رضي الله عنهم سیرت ته ښه وګورو دا به راته ثابته سي چې دوی د اسلام د ارزښتونو، د مسلمانانو د واک او رعب ساتلو لپاره څنګه اخلاق غوره کړي وه! د حق څخه یې څنګه دفاع کوله او د هر ډول باطل سره په مبارزه کې ثومره جدي وه!

کفارو ته دعوت، په وړاندې یې زغم او حوصله مندي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکمت او مصلحت نرمه پالیسي وه او بیا جهادونه، مبارزې او سختي ګالل د کفري باطل په وړاندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د جدیت پوره ښکارندویي کوي؛ همداسي د نورو ګناهونو او جرمنو په وړاندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم توند غبرګون د هر ډول فساد سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم سخت مخالفت او په مبارزه کې جدیت په ډاګه کوي.

مشهوره قیصه ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې یوې مخزومي ښځي غلا کړې وه د هغې قوم د شفاعت لپاره اسامه بن زید رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم وسلم ته واستوی تر څو د دې څخه حد ساقط کړي کله چې اسامه رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خبره وکړه هغه ورته وویل: آیا ته په یو حد کې د حدودو د الله شفاعت کوې؟ بیا ولاړ سو خطبه یې وویل او ویې فرمایل: ای خلکو ستاسو مخکې خلک ځکه ګمراهان سوه چې کله به په دوی کې غښتلي کس غلا کړې وای دوی به پرېښودی (حد به یې وربانديي نه جاري کاوه) خو کله چې به په دوی کې ضعیف کس غلا وکړه بیا به یې حد وربانديي جاري کاوه، زما دي د الله په ذات قسم وي که د محمد(صلی الله علیه وسلم) لور فاطمه غلا وکړي لاس به یې پرې کوم.[صحیح البخاري٦٧٨٨]

ددې قیصې څخه له ورایه ښکاري چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د باطلي واسطې په وړاندې چې د جاهلیت د زمانې یو منکر وو ثومره توند عکس العمل ښکاره کړ! او ثومره ژر یې خپل صحابه تنبیه کړه!.

په ډېرو احادیثو کې راځي چې کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم منکر ولیدی نو دومره به په خښم سو چې آثار د خښم به یې پر مبارک مخ باندي ښکاره سوه.

د زکات د مانعینو په وړاندې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه توند غبرګون او هغه خلکو ته چې په مسجد النبي کې یې چیغې وهلې د حضرت عمر رضي الله عنه خښم او قهر د هر ډول باطل په وړاندې د صحابه وو رضي الله عنه د جدیت ښکاره بېلګې دي.

موږ هم که غواړو په تمامه معنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم، صحابه وو او خپلو صالحو سلفو لاره تعقیب کړو باید د شرعي حکمت او مصلحت په مراعات کولو سره د هر ډول باطل په وړاندې جدي اوسو او پر ضد یې داسي مبارزه وکړو لکه هغوی چې کوله.

# د امت په حق کې لوی خدمت کوم دی!؟

**لیکوال: امام سید ابوالحسن علي ندوي - ژباړه: محمدنعیم پرهیز**

په اوسني عصر کې د امت د خدمت کولو لپاره تر ټولو مهمه اسلامي دنده دا ده، چې عمومي دعوت پیل شي، ترڅو عام وګړي د اسلام د ظاهر پر ځای د هغه په حقیقت پوه شي، باید په ډېر غیرت سره هڅه وشي، چې د اسلامي نړۍ په کالبوت کې د اسلام اصلي روح خپره او په دې برخه کې هیڅوک هم خپل وس په هیڅ صورت ونه سپمومي، ترڅو د امت وضعیت په ټولیز ډول بدل او په دنیا او اخرت کې بریا ترلاسه کړي او خلاصون ومومي.

دا نکته باید په ښه ډول درک شي، چې د امت عمومي وضعیت د هغوی په ایماني وضعیت پورې تړلی او د نړۍ عمومي وضعیت بیا د اسلام له وضعیت سره تړلی دی، نو کله چې امت په خپله له حقیقت او معنویت څخه خالي وي، څوک به نړۍ او نړۍ وال د خلاصون لوري ته دعوت کړي؟

د عیسی علیه السلام خطاب خپلو ملګرو ته د دې ملت په حق کې صدق کوي، چې ویې فرمایل: «تاسو د مالګې حیثیت لري، چې مالګه خپل خوند وبایلي، نو خوړو ته به څه خوند ورکړي؟» هوکې! اوسنی ژوند ډېر بې معنا او بې روحه شوی دی، ځکه د دې امت ډېر وګړي د اسلام له روح او حقیقت څخه لرې دي.

# اې خلکو! زه د بني مخزوم قبیلې یو شپون وم...!

**عبدالرحمن محمود**

یوه ورځ تنها ناست و، نفس یې ورته وویل: ته خو امیرالمؤمنین یې، تر تا نو کله بل افضل او بهتره څوک سته...

سمدستي یې وغوښتل چې د خپل نفس کبریاء او غرور ور مات کړي، د لمانځه وخت سو، خلګ را جمع سوه، دی و منبر ته پورته شو، خلګ یې مخاطب کړه چې «ای خلکو زه د بني مخزوم د قبیلې یو شپون وم، په یو څو خورماوو او کشمشو مې د هغوی پسونه پوول»

دا خبره یې وکړه او د منبر څخه را کښته سو، خلکو ته یې لمونځ ورکړ، د لمانځه وروسته جلیل القدر صحابي، عبدالرحمن بن عوف ورته وویل: ای امیرالمؤمنینه دا خو دې د خپل ځان په اړه داسي خبره وکړه چې ضرورت یې نه وو، یعني د خپل ځان د عیب خبره دې وکړه.

ده ورته وویل: یا عبدالرحمن، نن مې نفس راته وویل چې ته خو ډېر غټ شخصیت یې، امیرالمؤمنین یې، تر تا به بل غوره څوک کله وي؟ نو ومې غوښتل چې و خپل نفس ته درس ورکړم، او ور و پېژنم چې ته څوک یې، اصل دې څه دی...

پوهیږئ چې دا څوک وو، دا قاهر الجبابرة، مبشّر بالجنة، ثاني الخلفاء الراشدین، سیدنا عمر بن الخطاب رضي الله عنه وو.

المصدر: طبقات إبن سعد.

مقصد له قیصې څخه دادی چې نفس ورته، په مقتضیٰ یې ولاړ نشئ، مقابله یې وکړئ چې په عجب، کبر، او خودبینۍ کې مو واقع نکړي.

# د شوروي یرغل یوه فایده!

**ابو عمر**

د شوروي یرغل یا د افغاني کمونستانو کودتا هر کال غندل کیږي، ځکه دا ورځ د افغانستان په تاریخ کې یوه توره او کرغېړنه ورځ ده، په دې ورځ شوروي ځواکونو د خپلو لاسپوڅو په مرسته زموږ پر ګران هېواد یرغل وکړ، د ظلم او وحشت یو داستان یې پرانست، زموږ ودان هېواد یې لوټې لوټې کړ، افغانستان پر یو ویجاړ او نا امنه هېواد بدل شو، څه د پاسه څلور لسیزې وکړېدو، ایله چې اوس مو لږ د آرام ساه واخیسته، خدای دې دا ځل دغه نظام راته قایم او دایم لري، نور دې خدای دغه مظلوم ملت او وطن له هر ډول ظالمانو او مفسدینو په امن وساتي.

خو که له بلې زاویې ورته فکر وکړو، کمونستي کودتا او یرغل موږ ته ډېره زیاته فایده هم وکړه، هغه دا چې پخوا موږ تدریجاً د غفلت او بې دیني خوا ته روان وو، خو د کمونستانو په یرغل سره موږ راهیښ شوو، د جهاد روحیه راپکې ژوندۍ شوه او له اوږدۀ غفلت وروسته بیرته خپل دین ته ور وګرځېدو او د سوچه اسلامي نظام لپاره مو جهاد او مبارزه پیل کړه.

که کمونستانو یرغل نه وای کړی، موږ به په تدریجي توګه هماغسې د غفلت او بې دینۍ خوا ته روان وو، اوس به زموږ حال هم د نورې اسلامي نړۍ په شان وو.

خو همدې یرغل او کړاو کې الله ج موږ ته خیر واچاوه، موږ یې هیښ کړو او له تدریجي غفلت یې نجات راکړ.

همدا وجه ده، چې نن اسلامي نړۍ کې یوازې موږ له دغه شان سپیڅلي نظام څخه برخمن یو او ملت مو پر اسلام؛ آباد دی.

فَلِلّٰهِ الحَمدُ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَرَبِّ الْاَرضِ رَبِّ العالَمِینَ.

## خرج بی دخل، سرمایه از کف برد

**گلستان سعدی(رح)**

پارسازاده ای را نعمت بیکران از ترکه عمان به دست افتاد. فسق و فجور آغاز کرد و مبذری پیشه گرفت. فی‌الجمله نماند از سایر معاصی منکری که نکرد و مسکری که نخورد.

باری به نصیحتش گفتم: ای فرزند! دخل آب روان است و عیش آسیای گردان یعنی خرج فراوان کردن مسلم کسی را باشد که دخل معین دارد.

**چو دخلت نیست خرج آهسته تر کن**
**که می‌گویند ملاحان سرودی**
**اگر باران به کوهستان نبارد**
**به سالی دجله گردد خشک رودی**

عقل و ادب پیش گیر و لهو و لعب بگذار که چون نعمت سپری شود سختی بری و پشیمانی خوری.

پسر از لذت نای و نوش این سخن در گوش نیاورد و بر قول من اعتراض کرد و گفت: راحت عاجل به تشویش محنت آجل منغص کردن خلاف رای خردمند است،

**خداوندان کام و نیکبختی**
**چرا سختی خورند از بیم سختی**
**برو شادی کن ای یار دل افروز**
**غم فردا نشاید خورد امروز**

فکیف مرا که در صدر مروت نشسته باشم و عقد فتوت بسته و ذکر انعام در افواه عوام افتاده.

**هر که علم شد به سخا و کرم**
**بند نشاید که نهد بر درم**
**نام نکویی چو برون شد به کوی**
**در نتوانی که ببندی به روی**

دیدم که نصیحت نمی‌پذیرد و دم گرم من در آهن سرد او اثر نمی‌کند. ترک مناصحت گرفتم و روی از مصاحبت بگردانیدم و قولِ حکما کار بستم که گفته‌اند: بلِّغ ما عَلیکَ فاِن لَم یَقبلوا ما عَلیکَ

**گر چه دانی که نشنوند بگوی**
**هر چه دانی ز نیکخواهی و پند**
**زود باشد که خیره سر بینی**
**به دو پای اوفتاده اندر بند**
**دست بر دست می زند که دریغ**
**نشنیدم حدیث دانشمند**

تا پس از مدتی آنچه اندیشه من بود از نکبت حالش به صورت بدیدم که پاره پاره به هم بر می‌دوخت و لقمه لقمه همی‌اندوخت. دلم از ضعف حالش به هم بر آمد و مروّت ندیدم در چنان حالی ریش درویش به ملامت خراشیدن و نمک پاشیدن. پس با دل خود گفتم:

**حریف سفله در پایان مستی**
**نیندیشد ز روز تنگدستی**
**درخت اندر بهاران بر فشاند**
**زمستان لاجرم بی برگ ماند**

## سترې نه یمه؛ خمار سیوري ته ناست یم

**چنار ټکور**

سترې نه یمه؛ خمار سیوري ته ناست یم
انقلابه! بس تیار سیوري ته ناست یم
څه په مینه؛ د ګودر په رنګه غاړه
بختور یم؛ د چنار سیوري ته ناست یم
څو ګیلې خو را سره دي؛ لکه اوښکې
وخت وهلی یم؛ بیمار سیوري ته ناست یم
فریادونه او غمونه پنډې ـ پنډې
دژوندون په سترې لار سیوري ته ناست یم
عشقه؛ اوس خو به دې هېله وي ترسره
د سرونو د مینار سیوري ته ناست یم
د منصور په قدمونو مې پښې ایښې
لاس ترلی اوس؛ ددار سیوري ته ناست یم
خدازده؛ مر او که ژوندی به وې جانانه
خو"ټکور" دي انتظار سیوري ته ناست یم

## امنيتي او تصفيوي کمېسيون خپلې لاسته راوړنې ...

حفظه‌الله له لوري د عفوې فرمان د اخوت کم‌سارې فضا رامنځته کړې ده.

نوموړي زياته کړې، چې د دادمن امنيت له برکته سترې اقتصادي ملي پروژې پيل او تر کار لاندې دي.

د ښاغلي مجاهد په وينا؛ قانونيت حاکم دی، شرعي عدالت تطبيق شوی او ټول هېوادوال د عدالت پر وړاندې يو برابر او له خپلو حقوقو څخه برخمن دي.

دغه‌راز د جرايمو مخه نيول شوې او امنيتي او دفاعي ځواکونه مو اسلامي او ملي لوړه روحيه لري.

د ملي دفاع سرپرست وزير او د امنيتي او تصفيوي چارو کمېسيون مشر مولوي محمد يعقوب مجاهد ټينګار کړی، چې موږ د دوحې په تړون کې د نورو پر ضد د افغانستان د خاورې نه‌کارولو ته ژمن يو او هيچا ته به اجازه ورنه کړو چې افغانستان د نورو په خلاف وکاروي.

ښاغلي مجاهد ويلي: "د ځينو مغرضو داخلي او خارجي کړيو له لوري هڅې روانې دي، ترڅو دوی کاذب اطلاعات توليد او مختلفو لورو ته يې د مختلفو چينلونو له لارې ورسوي.

دغه‌راز افغانستان کې د داعشيانو د وجود او فعاليت په اړه کومې له مبالغې ډکې ارزيابۍ، احصاييې او ارقام ورکول کېږي دا ټول د هغو کاذبو اطلاعاتو په اساس دي چې ما مخکې اشاره ورته وکړه."

مولوي محمد يعقوب مجاهد زياته کړې؛ موږ له هغو هېوادونو څخه چې بهرني شرير عناصر د دوی له لارې افغانستان ته را داخليږي په کلکه غواړو، چې خپل زميني او هوايي سرحدات په جدي توګه کنټرول کړي.

د ملي دفاع وزارت سرپرست او د امنيتي او تصفيوي چارو کمېسيون مشر ويلي: "افغانستان کې په جوماتونو، خانقاوو، علماوو او د ولسي وګړو په اجتماعاتو ترسره شويو بريدونو کې له بهرنيو په ځانګړي ډول له تاجيکستاني او پاکستاني وګړو څخه کار اخيستل شوی دی.

سلګونه اختطافګر نيول شوي او وژل شوي او د دوی له ناولو منګولو څخه له ۲۰۰ زيات افغانان ژغورل شوي دي.

دغه‌راز د عاليقدر اميرالمومنين حفظه الله فرمان چې د مخدره موادو د کښت او قاچاق د ممنوعيت په اړه صادر شوی و، د امنيتي ځواکونو له لوري په ښه توګه تطبيق شوی دی.

د مخدره موادو د پروسس ۸۳۴ کارخونې، د الکولي مشروباتو د توليد ۵۷ کارخونې، د نشه يي تابليټونو د توليد ۲۲ کارخونې له منځه وړل شوي او ۸۲۸۲ مظنونين نيول شوي دي."

د ښاغلي مجاهد په وينا؛ په تېرو ۱۲ مياشتو کې د اسلامي امارت د شرعي محاکمو له لوري په ټوليز ډول له ۴۶ زره څخه زياتې جزايي دوسيې حل او فصل شوې دي.

نوموړي په پای کې له ټولو امنيتي او دفاعي ځواکونو څخه مننه کړې، چې د اسلامي شرعي نظام د راوستلو او ګرانو هېوادوالو ته د دادمن امنيت د تامين په برخه کې يې له هيڅ ډول ستړيا او سرښندنې څخه دريغ نه دی کړی.

## وزارت معارف؛ مصروف ساختار تشکیلاتی ...

تشکیلاتی ریاست‌های عمومی تربیه معلم، نظارت تعلیمی، مرکز ساینس، تحرک اجتماعی وآمریت سواد آموزی را تحت یک اداره واحد « ریاست تربیه معلم و انکشاف مسلکی» منسجم و ایجاد کرد.

ایـن اداره با ایجاد اصلاحات در لایحه وظایف، تجدید برنامه‌ها و پلان‌های جدید، قرار است به صورت دوامدار برای معلمین، سرمعلمین و مدیران حمایت علمی و مسلکی را ارائه کند تا از یک سو کیفیت تعلیمی را ارتقا دهد و از طرف دیگر یک نظام تعلیمی معیاری، شفاف، پاسخگو و نتیجه محور را در سراسر کشور نهادینه سازد.

اعلامیه صراحت دارد « مرکز ساینس که مسوولیت ایجاد و تجهیز لابراتوارهای درسی مکاتب، حمایت تکنالوژی تعلیمی، تحقیقات ساینسی، ثبت تجارب دروس ساینسی و تهیه مواد ممد درسی را به عهده داشت، به همین ملحوظ در تشکیل ۱۴۰۲ دو باره احیا شد.»

اعلامیه هم‌چنان، بیان داشته است که براساس رهنمود و هدایت رهبری وزارت معارف، هیچ کارمند قبلی تربیه معلم و اعضای نظارت تعلیم از وظیفه خویش منفصل و یا سبکدوش نمی‌شود و برای کارمندان اضافه بست، بست های مناسب در نظر گرفته شده است.

گفته شده است که تعیینات اعضای علمی تربیه معلم و انکشاف مسلکی بر بنیاد اسناد تعیینات و درروشنایی قوانین نافذه انجام می‌شود و در این روند به استادان دارالمعلمین‌ها و اعضای نظارت تعلیمی ساختار قبلی واجد شرایط اولویت داده می‌شود.

## د اسلامی امارت په راتک سره ...

او پانګونه کې د پام وړ پرمختګ شوی، چې دا د افغانستان د ملت لپاره ستر نعمت دی.

دوی زياته کړې، چې هېواد کې پولي ثبات، د بانکدارۍ سيستم او همداراز له خصوصي سکټور څخه د اسلامي امارت هر اړخيز ملاتړ د کورنيو او بهرنيو پانګوالو او سوداګرو لپاره نوې هيلې پيدا کړي دي.

دوی په بېلا بېلو برخو کې د خصوصي سکټور پياوړتيا ته په اشارې د اسلامي امارت له رهبري غوښتي، چې د خصوصي سوداګريزو شرکتونو بانکي تاميناتو او تضمينونو او دغه راز په بېلا بېلو برخو کې د خصوصي سکټور ظرفيتونو ته پاملرنه وکړي.

مولوي عبدالسلام حنفي پر ياده کتنه خوښي څرګنده کړې او ويلي يې دي، چې سوداګر او پانګوال په واقعيت کې د هېواد پانګه ده او د افغانستان اسلامي امارت له دې پانګې څخه د ملاتړ په برخه کې خپلې هېڅ راز هڅې نه دريغوي.

نوموړي زياته کړې، چې موږ د هېواد ابادۍ او پرمختګ ته مصمم يو او په دې برخه کې له حکومت سره د خصوصي سکټور همکاري ضروري او حياتي ده.

مولوي عبدالسلام حنفي د خپلو خبرو په پای کې ويلي، چې اسلامي امارت تل سوداګرو او پانګوالو ته د اسانتياوو د ايجاد په موخه د بانکي راکړې ورکړې عادي کولو او د هېواد په بېلا بېلو برخو کې د انکشافي پروژو د بشپړولو هڅې کوي.

## محفل دستاربندی صدها حافظ قرآن کریم و ...

آنان می گویند که باید مردم در برگزاری همچون محافلی و ایجاد مدارس دینی و خدمات اسلامی دوشادوش علمای خود حرکت کرده و آنان را حمایت نمایند.

در مدرسه جهادی هرات در حال حاضر یک هزار تن مصروف فراگیری علوم دینی انـد که با پرداخت و هزینه لیلیه از سوی امارت اسلامی به گونه رایگان درس می خوانند.

## شاروالی کابل از هر نوع تخریب ...

شماری از بلند منزل ها با وجود هشدارهای پیهم، همچنان به رد فاضلاب شان در کانال های شهری و آبرو ها ادامه داده اند .

ادامه چنین یک وضعیت شاروالی کابل را وا داشت که مجرای رد فاضلاب شماری از بلند منزل‌ها و ساختمان‌ها به کانال رحمن مینه را در مربوطات ناحیهء هشتم شهر کابل، تخریب کند.

داکتر مسعودالله فقیر معاون ریاست صحت محیطی و محیط زیست شاروالی کابل، گفت: کانال رحمن مینه برای مدیریت آب‌های سطحی می‌باشد، رد فاضلاب و انداختن هر نوع زباله در کانال‌ها و آبروهای شهر، خلاف قوانین محیط زیستی بوده و تخلف شهری پنداشته می‌شود.

وی افزود: چگونگی سیستم فاضلاب بلند منزل‌ها و ساختمان‌های شهرکابل، تفتیش محیط زیستی می‌شود و با متخلفان برخورد قانونی صورت می گیرد و هیچ یک از مالکان ساختمان‌های تجارتی و رهایشی حق ندارند فاضلاب ساختمان های شان را در آبروها و کانال‌ها رد کنند.

# روزګان؛ د روان کال په درېيمه ربعه کې څه باندې ۹ زره پېژندپاڼې وېشل شوې دي

د روزګان د احصايې او معلومات رياست مسوولين وايي چې د روان کال په درېيمه ربعه کې د څه باندې ۹ زره پېژندپاڼو د وېش له درکه څه باندې ۵ ميليونه افغانۍ عوايد راټول کړي دي.

د دغه ولايت د احصايې او معلوماتو رياست يوې سرچينې د باختر آژانس سيمه ييز خبريال ته وويل چې د ۱۴۰۲ کال په درېيمه ربعه کې يې د ۶ زره ۲۳۳ برېښنايي او ۳۲۰۰ کاغذي پېژندپاڼو د وېش ترڅنګ، ۱۹۰۰ تنو ته د کاغذي پېژندپاڼو تائيدي کړې ده.

د سرچينې په وينا په دغه موده کې همداراز ۱۴۰۰ ماشومانو ته يې د زېږېدو کارټونه هم وېشلي چې د يادې پروسې له درکه ۵ ميليونه او ۳۰۰ زره افغانۍ عوايد راټول او د دولت خزانې ته جمع شوې دي.

# د کونړ روغتيايي مرکزونو ته ۲۲۰ قلمه طبي توکي ورکړل شول

د کونړ له روغتيايي مرکزونو سره د يونيسف موسسې په مالي ملاتړ د درېيو مياشتو لپاره ۲۲۰ قلمه طبي اوغيرطبي توکو مرسته وشوه.

د دغه ولايت د عامې روغتيا رئيس قاري مظفر مخلص باختر آژانس ته وويل چې اوس په دې ولايت کې روغتيايي خدمات د پخوا په پرتله پياوړي شوي او ۲۱۲ قلمه مصرفي توکي او درمل او ۸ قلمه ژمني توکي د مرکز په ګډون بېلابېلو ولسواليو او ۶۲ روغتيايي مرکزونو ته ورکړل شول.

مخلص زياته کړې چې د يادو توکو په وېش سره روغتيايي خدمتونو ته د خلکو لاسرسی زيات او ستونزې به يې حل شي.

# په بدخشان کې د يوې ترافيکي پېښې له کبله ۴ کسانو ته مرګ ژوبله واوښته

د بدخشان ځايي مسوولين د دغه ولايت په ارغنجخواه ولسوالۍ کې د يوې ترافيکي پېښې له کبله ۴ کسانو ته د مرګ ژوبلې اوښتو خبر ورکوي.

د ياد ولايت د پوليسو وياند احسان الله کامګار باختر آژانس ته وويل چې دغه پېښه تېره ورځ ناوخته د ارغنجخواه ولسوالۍ په تګابک سيمه کې د يوه رنجر موټر د چپه کېدو له کبله رامنځته شوې چې يو کس مړ شوی او درې نور ټپيان شوي دي.

احسان الله کامګار د پېښې لامل د موټر چلوونکي تېز تګ ياد کړ.

د يادونې وړ ده چې پرون هم د بغلان – کابل پر لويه لاره د خنجان ولسوالۍ اړوند د پل ملخان په سيمه کې د يوه کرولا موټر د چپه کېدو له امله څلورو تنو ته مرګ ژوبله اوښتې وه

## د اوبو د مديريت له پاره بايد عملي ...

ډول کارولو په برخه کې له ټولو افغانانو زښته ډېره بې پروايي اولټې شوې ده- ددغې لټي او غفلت پايله هغه وخت ښه معلومېدی شي، کله چې سړی له هېواد نه بهرنورو ته ډك ورتلونکي سيندونه اوبيا خپل هېواد کې يې ترڅنګ وچواو پراخو دښتو ته کتنه وکړي- په هر صورت رښتيا ده چې او به له اسمانه خوساتنه يې له ځانه ده- په دې معنا چې کـه موږ خپلو اوبوته لاس نه ور وړو، نه يې زېرمه کوو اونه خپلې دښتې پرې خړوبوونو حتما به همداسې نور خلك مزې پرې کوي، عوام او ناپوهه خلك به لوږ واوبې وزليو کې ډوب وي او لږ با احساسه کسان به مو يوازې د حسرت په نظر ورته ګوري- نوخبره داده په حقيقت کې دغه واورې، بارانونه ا وسيلابونه چې پرموږ له اسمانه را اوري، اصلا زموږ برخه ده خو داچې يې د کارولو وړتيانه لرو، طبعا په خپل سر نوروته ځان رسوي- بنا پـر دې اوس وخت راغلی چې حکومت اورعيت دغې حياتي موضوع تـه په خورا جديت سره پام وکړي اوخپل ځانونه له هغې متـازۍ وژغوري چې حيثيت، ديانت، خپلواکي او نور ډېر مهم ارزښتونه يې په ښکاره خطر کې اچوي- داسمه ده چې اوس به موږ دلويو بندونو او ويالو د جوړولو توان نه لرو، خو دومره حتما کولی شو چې د خپل کور خواو شا واورې او باران د خوندي کولو لپاره داسې ژورې کندې او کوهيان و کنوچې ټولې اوبه يې هما غلته جذب او خوندي شي- دغه راز که له خپل وس سره سم په خوړونو اوسيندونو کې واړه بندونه ورغوو چې هم دخپل څه نا څه ضرورت برېښنا را کوي اوهم موباغونه او کښتونه خړوبوي، داهم زموږ له توانه ډېره ليرې نه ده- بلکې دا هرڅه داسې چارې دي چې زموږ هر حکومت او دهغه محلي چارواکي يې تر ډېره حده تر سره کولی شي- لنډه دا چې په دې برخه کې مسوولیت خورا زيات دی- نو لازمه ده چې د اوبو د زېرمه کولو او سيندونو مهارولو په برخه کې هم زموږ رسنۍ خپلې غاړې خلاصې اوهم حکومت او چارواکي يې دخلکو پوهاوي، تشويق او تنظيمولو کې خپل مکلفيت تر سره کړي- ځکه ښکاره ده چې په دې هکله د سستۍ اوناغېړۍ نتيجه بيا خامخا له دې پرته بل څه نه وي چې زموږ د خوراکي توکو اړتيا به له (۷۸) سلنې ور ا وړي او (۹۰) ته به رسيږي.

## د امنيت شورا د پـريکـړه ليـک ته د بهرنيو ...

ځمکني واقعيتونه ښيي چې افغانستان په شخړه کې ښکېل هېواد نه دی او اوسمهال يکې داسې مرکزي حکومت واکمن دی، چې د هيواد ګټې ساتلی او مکلفيتونه ترسره کولای شي او دا وړتيا لري چې د دوو اړخيزو او څو اړخيزو ميکانيزمونو له لارې مسايل مديريت کړي.

د يادولو وړ ده چې ځانګړو استازو د افغانستان او نړۍ په نژدې تاريخ کې نه يوازې دا چې کومه شخړه نه ده اواره کړې، بلکې د پرديو نسخو د تحميل له لارې يې وضعيت لا کړکېچن کړی دی.

په داسې حال کې چې موږ د ملګرو ملتونو له خوا له افغانستان سره د لا پياوړې او پراخې ښکيلتيا د ټولو مثبتو هڅو هرکلی کوو، زموږ کړنلاره به په نهايت کې د افغانستان د خلکو نه بدليدونکي ديني عقايدو، کلتوري ارزښتونو او ملي ګټو پر بنسټ ولاړه وي.

په دې اساس، د ملګرو ملتونو له سازمان څخه غوښتنه لرو چې د افغانستان اړوند هر ډول پريکړو کې موجود واقعيتونه په نظر کې ولري او پريکړې يې د کوم لوري تر اغيز لاندې رانشي.

## بغلان کې د اوبو رسولو ۸ شبکې ...

د بغلان ولايت د کليو د بيارغونې او پراختيا رئيس مولوي عبدالواحد عبيده د باختر آژانس خبريال ته وويل چې په يادو شبکو کې د ٤ حلقو ژورو څاه ګانو کينـدل، د ۷ بابه کانکريټي ذخيرو جوړول، د ۱۸۸۰ نلکو نښلول، د ۲۹۰ سولري تختو ځای پر ځای کول او د ٦۱ زره ۲۲۷ مترو په اوږدوالي پايپ لاين غځول شامل دي.

د دغو پروژو د کار په جريان کې د سيمې سلګونه تنه کاريګرو ته د کار زمينه برابره شوې وه او په بشپړيدو سره يې د دغه ولايت د بېلابېلو ولسواليو ۳۸٤۸ کورنيو د څښـاک پاکو اوبو ته لاسرسی پيدا کړ.

## بهره برداری بیست پروژه ی توسعه یی ...

بهره‌برداری سپرده شد.

وی افزود که در این پروژه‌ها بانک جهانی و صندوق وجهی بازسازی افغانستان از طریق موسسه هماهنگی کمک های انسانی مبلغ چهل میلیون افغانی هزینه کرده است.

در این حال باشندگان محل از بهره‌برداری این پروژه‌ها خوشی می‌کنند و در حین حال تاکید به توسعه همچون پروژه‌های عمرانی می‌کنند.

# Shariat Daily

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

**شریعت**
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Monday 01 February 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 348


ملي سوداګر:

## د اسلامي امارت په راتګ سره د پام وړ پرمختګونه شوي



د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د هېواد له یو شمېر ملي سوداګرو سره لیدنه کړې.

په پیل کې راغلو ملي سوداګرو د اسلامي امارت د حاکمیت او هېواد کې د سرتاسري امنیت پر ټینګښت خوښـي څرګنده کړې او ویلي یې دي؛ هېواد کې د اسـلامي امارت پـه راتګ سـره بېلا بېلـو برخو په ځانګړې ډول سوداګرۍ ... ۵مخ

۵مخ

## شاروالی کابل از هر نوع تخریب محیط زیستی در شهر هشدار داد




شاروالی کابل از هر نوع تخریب محیط زیستی در شهر هشدار داد و بار دیگر تاکید کرد که رد فاضلاب بلند منزل ها به کانال های شهر تخطی از قانون و آسیب رساندن به محیط زیستی است.

این هشدار در حالی صادر شده است که مالکان ... ص۵

## محفل دستاربندی صدها حافظ قرآن کریم و دوره های احادیث نبوی درهرات



محفل دستاربندی دوصدو هشتاد و دو تـن از حافظـان دوره هـای حفظ قـرآن کریم، احادیث نبوی و علم فقه درمدرسـه جهادی هرات برگزارشد.

مولوی خلیل احمد روفی مدرس، مدرسـه جهادی هرات بـه آژانس باخترگفـت: در این دور یک صدو چهـل ویک تـن از دوره احادیث، چهل ویک تن مفتی و یک صد تن از دوره های حفظ قرآن کریم فارغ شدند.

شـیخ عزیز الرحمان مهاجر رییس امر به معروف و نهی از منکر هرات در باره فضیلت علم صحبت نموده از مردم خواست در کنار مجاهدین امارت اسلامی باشند.

در ادامه محفل دستار بندی برخی از عالمان دین بـا تاکید بر اتحاد و اتفاق مسلمانان، احترام گذاشتن به علما را عامل از بیـن رفتن تفرقه و اختلاف عنوان کردند. ص۵

## آغاز کارساخت شش چکدم دربامیان

وزارت زراعت، آبیاری ومالداری به هـدف تقویت آب های زیر زمینی دیروزکار سـاخت شـش چکدم را درشش ولسوالی بامیان آغازکرد.

برای سـاخت این چکدم ها، بیش ازچهارده میلیون افغانی هزینه می شود.

عبدالصبورفرزان سیغانی سخنگوی والی بامیان بـه آژانس باخترگفت: قرار اسـت این چکدم ها تا دو ماه دیگر به بهره گیری سپرده شود.



## د صبریو ولسوالۍ په خټکي کلي کې استنادي دیوال رغول شوی

د خوسـت ولایت صبریو ولسوالۍ اړونـد خټکـي کلي کې د شـمل خرم سـینډیزي حوزې ریاست تر مسـتقیمې څارنې لانـدې د ۲۸۰ متره پـه اوږدوالي د یوه اسـتنادي دیوال پروژه د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخستنې ته وسپارل شوه.

دغه پروژه د یونسـیار موسسې د ۴ میلیونه ۵۴۷ زره او ۹ سـوه افغانیو په مالي لګښت د اکرو موسسې له خوا د یوه نیمې میاشتې په موده کې بشـپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

دغه اسـتنادي دېوال په سـیمه کې له سـېلابونو څخه د یو ښوونځي، مدرسـې، کورونو او کرنیزو ځمکو د ژغورنـې په هدف رغول شـوی دی.



## هیئت‌علمای پاکستان به کابل سفر می‌کند

قرار اسـت یک هیئـت از علمای پاکسـتان در هفته جـاری به کابل بیاید. مولانـا فضل الرحمن رئیس جمعیت العلمای اسلام این هیئت را رهبری می‌کند.

روز نامه اکسپرس تریبون به نقل از منابع وابسـته به جمعیت علمای اسـلام گزارش داده اسـت که این هیئـت را مولانـا فضل‌الرحمان؛ رییس این حـزب رهبری خواهد کرد

اکسـپرس تریبیـون گفته اسـت کـه وزارت‌های داخلـه و خارجه پاکسـتان مقدمـات دیدارهـای مختلـف را نهایـی کرده‌اند که بر رسیدگی به موضوع تحریک طالبان پاکسـتان و حل تنـش بین کابل و اسلام‌آباد تمرکز دارد.

مولانـا فضل‌الرحمان در اوایل ماه جاری از سـوی سفارت افغانستان در اسـلام آباد برای سـفر به کابل دعوت شد.

## د فاریاب چهلګزي ولسوالۍ کې د نجونو ښوونځی جوړ شو



د فاریاب په چهلګزي ولسوالۍ کې د ناروې موسسـې په مالي مرسته د ۱۵ میلیونـه افغانیو په لګښـت د انجونو د لومړني ښـوونځي ودانۍ جوړه او ګټې اخیسـتنې ته وسپارل شوه.

د دغـه ښـوونځي د پرانسـتې په مراسـمو کـې د ولایـت د پوهنې رییـس مولوي سـید حفیـظ الله معتصـم باللـه، نورو سـیمه ییزو چارواکو او عامو خلکو ګډون کړی و.

د سـیمې خلکو د دغه ښـوونځي جوړېدل د خپلـو بچیانو د روزنې او روښانه راتلونکي لپاره ګټور بللي او په نورو سـیمو او ولسـوالیو کې یـې هم د ورته پـروژو د پلي کېدو غوښتنه کړې ده.

## رویدادهای خارجی

### یک جنرال اسرائیلی؛ نتانیاهو را بد اخلاق خواند

هـزاران اسـرائیلی هـا در تل‌ابیب تظاهرات کردند و خواستار برکناری فوری نتانیاهو از قدرت شدند.

روزنامـه هاآرتص در گـزارش گفته است شنبه شـب، هزاران نفر در تل ابیب دست به تظاهرات زده و خواهان برکناری فـوری بنیامیـن نتانیاهو از نخست‌وزیری شدند.

گای تسور از جنرال‌های سابق ارتش اسـرائیل در جمع تظاهـر کنندگان گفت: وظیفه مدنی ما اسـت، ما در قبال نظامیانی که از زندگی آنان سـو استفاده می‌شـود و در مسلخ اهداف سیاسـی عاشـقان قدرت کشته می شوند مسوولیت‌پذیر شویم اونتانیاهـو و دار و دسـته‌اش را بـد اخلاقی خواند

این در حالی است که با ادامه حمله های اسـرائیل و قتل عام باشـندگان غـزه و همچنان با ازدیـاد تلفات در میان نظامیان اسرائیلی، دولا ائتلافی نتانیاهو خـود را در موجی از واکنش های درونی و بیرونی یافته است. روز گذشته رییس جمهور افریقای جنوبی از این رژیم بابت کشـتار مردم غزه و ارتکاب جرایم جنگی و ضد بشری به دادگاه بین المللی لاهه شکایت کرد و «میگل ماریـو دیاز-کانل برمودز» رئیس جمهـور کوبا با تروریسـت خواندن‌رژیم‌صهیونیستی، گفته‌است که آنان در نوار غزه مشغول قتل عام و نسل‌کشی‌فلسطینی‌هاهستند.

### د غزې په اړه لاهه محکمې ته شکایت شوی

سـویلي افریقـا د جرمونـو په نړیوالـه محکمـه "لاهه" کې د یوې قضیې په پرانیسـتلو سـره اسـرائیل غزه تړانګه کې "د نسل وژنې په پراخه کړنو" تورن کړي.

یاد هېـواد په یـوه خبرپانه کې ویلي؛ لاهـه نړیوالې محکمې ته یې ځکه شـکایت کړی، چې اسرائیلو د نسل وژنې کنوانسیون په تړاو خپلې ټولې ژمنې تر پښو لاندې کړې دي.

د یاد هېـواد په خبرپانه کې ویل شـوي: "اسـرائیل غـزه کې د فلسطینیانو په نسل وژنه بوخت دي او دا ګـواښ شـته چـې د اسرائیلي ځواکونو دښمنانه کړنې به غزه کې پر سـختو تلفاتو پای ومومي او دا جنایات زیات شوي دي."

دغه‌راز پـه د خبرپاڼې په یوه بله برخه کې راغلي، چې اسـرائیلو غزه کې د فلسطینیانو د له منځه وړلو پـه موخـه دا جنایات پیل کړي دي.

په دې تړاو د اسـرائیلو د بهرنیو چـارو وزارت ویاند پـر خپله ایکـس پاڼـه د سـویلي افریقا څرګندونې رد کړې دي. سویلي افریقا داسې مهال غبرګون ښیي، چې پر غزه د صهیونیستي رژیم د بریدونو نږدې درې میاشـتې کېـږي. په دې بریدونـو کې په زرګونو کسـان شهیدان، ټپیان او بې‌کوره شوي دي.

### د نتنیاهو پر ضد زرګونو کسانو لاریون کړی

د اسـرائیلو په پلازمېنـه تل‌ابیب کــې زرګونـه اسـرائیلي وګړو د لومړي وزیـر بنیامیـن نتنیاهو پر ضـد لاریون کړی او لـه واکه یې د نوموړي د ګوښـه‌کېدو غوښـتنه کړې ده.

ویل کېږي، چـې نتنیاهو د خپلې سیاسي بقا لپاره غزه کې د جګړې اوږدول غواړي.

پر غزه تړانګه د صهیونیستي رژیم د بریدونـو شـاوخوا ۸۵ ورځې کېږي او نتنیاهو پرون شـنبه یوې خبـري غونډې ته ویلـي، چې په ټولو جبهو کې به جګړه روانه وي.

د اسرائیلي حکومت د چارواکو تر منځ هم اختلافونه رسـنیز شوي، چې ځینو یې د تېرې شنبې ورځې په خبـري غونډه کې ګـډون نه و کړی.

غزه کـې د صهیونیسـتي رژیم د بریدونو له امله تـر دې مهاله ۲۱ زره او ۶۷۲ کسان شهیدان او ۵۶ زره او ۱۶۵ نور ټپیان شوي دي.

د غزې روغتیـا وزارت وایي، چې د جګړې له پیل څخه یې تر اوسه ۳۱۲ طبي پرسونل شهیدان او ۹۹ طبي کادرونه یې له اسـرائیلو سره بندیان دي.

د یاد وزارت په ویـنـا؛ غزه تړانګه کـې د ۲۳ روغتونونـو او ۵۳ روغتیایـي مرکزونـو چـارې د صهیونیسـتي رژیـم د بریدونـو لـه امله پـه ټپه دربدلـې او ۱۰۴ امبولانسونه یې له منځه تللي دي.

### توجه !

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**